TRANSLATION DEPARTMENT
DAWAT-E-ISLAMI

هفته واره رساله

زړۀ بدلوونکي 41 خبري

(دامامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دکتاب منهاج العابدين نه دوهم قِسط)



- په عبادت او دُعا کښې د خوند موندلو نُسخه
- د ډېر خوراک 10 افتونه
- د تولونه ګران کار
- نېغه لاره

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

زړۀ بدلوونکي 41 خبرې

دُعائے عطّار: یا ربِّ کریمه! څوک چې دا رساله " زړۀ بدلوونکي 41 خبرې " ولولي یا واوري، د اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسیله د هغه زړۀ د نېکو نه ډک کړې او د ګناهونو نه یې لرې وساتې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه جَنَّتُ الفردوس ته داخِل کړې- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بے شکه الله پاک یوه فرښته زما په قبر باندې مقرر کړې ده کومې له چې یې د ټول مخلوق د اوازونو د اورېدو طاقت ورکړے دے، تر قیامته پورې چې څوک هم په ما باندې دُرُودِ پاک لولي نو هغه ما ته د هغۀ او د هغۀ د پلار نوم پېش کوي، وائي: " فلانکے د فلانکي ځوي په تاسو باندې دا وخت دُرُودِ پاک لولي-" (مسند بزار، 255/4، حدیث:1425)

سُبْحٰنَ الله! دُرُود شریف لوستونکے څومره بختور دے چې د هغه نوم سره د پلار د نومه دربار رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته پېش کولے شي، دا نکته هم ډېره اِیمان تازه کوونکي ده چې په قبر مبارک حاضرې فرښتے له د اورېدو

دومره ډېر طاقت ورکړے شوے دے چې هغه د دُنيا پۀ ګوټ ګوټ کښې هم پۀ يو وخت کښې د دُرُود شريف لوستونکو د لکونو مسلمانانو ډېر پۀ ورو اواز هم اوري- چې د دربار د خادِم د اورېدو د طاقت دا حال دے نو د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِختياراتو به څۀ شان وي! هغوئي به ولې خپل غلامان نۀ پېژني او ولې به د هغوئي پۀ فرياد اورېدو بِاِذنِ الله (يعنې د الله پاک پۀ اِجازت سره) د هغوئي اِمداد نۀ کوي!

اور کوئی غیب کیا تم سے نِہاں ہو بھلا — جب نہ خدا ہی چُھپا تم پہ کروڑوں درود
میں قُرباں اِس ادائے دَست گیری پر مرے آقا — مدد کو آگئے جب بھی پُکارا یا رسولَ اللہ

(حدائقِ بخشش، ص264)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب — صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

﴿1﴾ مُتَّقِي ته متقي ولې وئيلے شي؟

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: تقویٰ والۀ ته متقي دې وجې نه ووئيلے شو چې هغوئي پۀ ناجائزه کښې د پرېوتو د وېرې نه جائز هم پرېښودل- (ترمذی، 204/4، حدیث:2459 بتغیر۔ منهاج العابدین، ص60)

دحديث شرح: يعنې متقي اِنسان ځينې حلال خيزونه هم پرېږدي چې هسې نه چې هغه د شک والا خيز (يعنې د کوم چې د حلال يا د حرام عِلم نۀ وي) کښې پرېوځي او د شک نه هم ځان بچ کوي چې هسې نه چې پۀ حرامو

کښې پرېوځي، دغه شان پۀ فحش یا دروغو کښې د اخته کېدو د وېرې نه ځینې جائزې خبرې هم پرېږدي او د حدیث د روایت کوونکي (د حالاتو) د عِلم نۀ لرلو او که د هغه عِلم وي خو د هغه پۀ روایت د اِعتماد نۀ لرلو پۀ وجه د دې وېرې نه نۀ روایت کوي چې هسې نۀ د هغه حدیث موضوع (یعنې د ځانه راجوړ کړے شوے) نۀ وي- (المفاتیح فی شرح المصابیح،3/399)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

﴿2﴾ د سترګو حفاظت

بنده کله کله داسې نظر اوکړي چې د هغې پۀ وجه یې زړۀ داسې خراب شي لکه څنګه چې څرمن خرابېږي- کامِل ولي حضرت ذُو النُّون مِصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ”د شَهوتونو (یعنې د خواهشاتو) د پاره د ټولو نه ښه څنډ [یعنې رکاوټ] نظر ښکته ساتل دي-“ (منهاج العابدین، ص62)

﴿3﴾ پۀ عبادت او دُعا کښې د خوند موندلو نُسخه

د عبادت خوند او د دُعا مزه د عبادت کوونکو پۀ نزد ډېر لوئي څیز دے او دې د پاره حدیث: (د زنانه د حُسن او جمال طرف ته کتل د اِبلیس پۀ زهرجنو غشو کښې یو غشے دے نو چا چې دا پرېښودو الله پاک به هغه ته د عبادت داسې مزه ورنصیب کړي چې هغه به خوشحاله کړي- (مسند الفردوس،4/297، حدیث:6872)) والا

عمل مُجرب (يعني ازمائيلے شوے) دے، څوک چې پۀ دې باندې عمل اوکړي هغه ته به د دې يقين شي، بے شکه چې کله هغه د فضول خيزونو نه د خپل نظر حفاظت کوي نو د عبادت خوند او خوږ والے او د زړۀ به داسې صفائي مومي کومه چې د دې نه مخکښې چرې هم نۀ وه- (منهاج العابدين، ص63)

﴿4﴾ د فُضُول خبرو وَبال

حضرت مالِک بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې تاسو پۀ خپل زړۀ کښې سختي، پۀ وجود کښې کمزوري او پۀ رزق کښې تنګي ووينئ نو پوهه شئ چې تاسو ضرور څۀ فضول خبره د خُلې نه ويستلې ده-" (منهاج العابدين، ص65)

﴿5﴾ د غيبت تباهي

غيبت خو د نېکو تباه کوونکے تندر دے، منقول دي چې " د خلقو د غيبت کوونکي مثال د هُغه ګس پۀ شان دے کوم چې يو مِنجَنِيق (د ګټو ويشتو يوه آله) ولګوي او د هغې پۀ ذريعه خپلې نېکۍ مشرق او مغرب او شمال او جنوب څلور واړو اړخونو ته ولي- (منهاج العابدين، ص65)

﴿6﴾ يو مشهور مَتَل

يو مشهور مَتَل دے چې " ډېر الفاظ داسې وي چې اِنسان ته وائي: مونږ د خُلې نه مۀ اوباسه " (منهاج العابدين، ص66)

﴿7﴾ الله پاک ته هر څۀ ښکاره دي

د بندګانو د وېرولو او خبرداري ورکولو د پاره دومره هم کافي ده چې "**الله پاک د زړونو د حال نه خبر دے۔**" ولې چې د غېبو نه د خبر سره معامله ډېره نازکه ده نو غور اوکړئ چې ستاسو د زړونو د څنګه څنګه خیالونو نه هغه خبر دے۔ (منهاج العابدین، ص68)

﴿8﴾ اوږد اُمّېد او د مرګ یاد

کله چې ستاسو د اوږد ژوند اُمېد پیدا شي نو تاسو به مرګ او قبر هېر کړئ۔ (منهاج العابدین، ص72)

﴿9﴾ د زړۀ د نرمۍ او د صفایۍ طریقه

زړۀ خو د مرګ او د قبر، د ثواب او د عذاب او د اخرت د حالاتو یادولو سره نرمېږي او صفا کېږي او په دې کښې چې ستاسو سره هیڅ هم نۀ وي نو زړۀ به د کوم ځائے نه نرم او صفا شي؟ (منهاج العابدین، ص72)

﴿10﴾ دنیا د درېو ساګانو ده

زمونږ (یعني د اِمامِ غزالي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه) د شېخ رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه په دې فرمان باندې غور اوکړئ چې " دُنیا د درېو ساګانو ده، یوه ساه کومه چې تاسو واخسته او په دې کښې چې کوم عمل کول وو وه مو کړو، یوه ساه هغه کومه چې تاسو اخلئ او یوه راتلونکي ساه د کومې نه چې تاسو خبر نۀ یئ چې وه به یې

هم خلئ که نۀ" څومره ساه اخستونکي مرګ د بلې ساه اخستو نه مخکښې راګېر کړي- لهذا ستاسو سره هم یوه ساه ده نۀ چې یو ساعت او یوه ورځ، نو د دې نه مخکښې چې مرګ راشي پۀ دې ساه کښې د عبادت او توبې طرف ته تادي اوکړئ- (منهاج العابدین، ص73)

﴿11﴾ حَسَد دوزخ ته رسوونکے دے

حَسَد نېکۍ خرابوي او پۀ ګناهونو راپارول کوي او دا داسې بیماري ده پۀ کومه کښې چې ډېر خلق اخته دي، حَسَد خلق هلاکوي او دوزخ ته یې غورځوي- (منهاج العابدین، ص74 ملخصاً)

﴿12﴾ د رَبّ د ناراضتیا حقدار څوک؟

حضرت سَیِّدُنا موسیٰ کَلِیمُ الله عَلَیْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے زما ربه! ستا پۀ خپل مخلوق کښې د ټولو نه زیات خوښ څوک دے؟ اِرشاد یې وفرمائیلو: د چا پۀ زړۀ کښې چې تکبر، پۀ ژبه باندې فحش خبرې، د نېکو نه مخ اړوونکے، د لاسونو کنجوس او د خرابو اخلاقو واله نۀ وي-

(منهاج العابدین، ص77)

﴿13﴾ اوږدۀ اُمېدونه لرونکے څوک

که تاسو پۀ یقیني توګه دا ذِهن جوړ کړئ چې زۀ به د راتلونکې ساه یا راتلونکي ساعته یا د راتلونکې ورځ پورې ژوندے یم نو تاسو اوږد اُمېد

لرونکو يـۀ او دا ستاسو د طرف نه نافرماني ده ځکه چې دا پۀ غيب (يعني پۀ پټه معامله) باندې حُکم لګول دي او که چرې تاسو د الله پاک د عِلم او اِرادې سره خپله اِراده پابنده کړۀ او داسې ووايۀ: که چرې الله پاک وغوښتل نو زۀ به ژوندے يم يا که چرې د الله پاک پۀ عِلم کښې لا زما ژوند پاتې وي نو زۀ به ژوندے يم- پۀ داسې حالت کښې به تاسو ته د اوږد اُمېد والا نۀ بلکې اُمېد پرېښودونکے وئيلے کېږي- (منهاج العابدين، ص78)

﴿14﴾ د مرګ ياد

ياد ساتۀ چې د اُمېدونو د کمي قَلعَه (يعني د دِپرو اُمېدونو نه د بچ کېدو ذريعه) د مرګ ياد دے او د دې قلعه قلعه (يعني د دې د نورې مضبوطولو طريقه) پۀ نا خبرۍ او پۀ غفلت کښې راتلونکے مرګ يادول دي-

د خبرو دا خُلاصه ياده کړۀ او پۀ دې باندې عمل اوکړۀ ځکه چې د دې دِپر زيات ضرورت دے او د خلقو سره پۀ ملاقاتونو او پۀ بحث او مباحثه کښې خپل وخت ضائع کول پرېږدۀ- (منهاج العابدين، ص79)

﴿15﴾ پۀ خپل ځان کښې د عاجزۍ پيدا کولو طريقه

د نفس د کم تر او د سپک ګڼلو خيال ته " تواضُع (يعني عاجزي) " وئيلے شي، د عاجزۍ صِفت پۀ خپل ځان کښې د پيدا کولو د پاره د حق نه د مخ اړوونکو او پۀ باطِل کښې د وړاندې تلونکو انجام ياد کړۀ-

(منهاج العابدين، ص 81)

﴿16﴾ حَرام خوراک او د ضرورت نه د زيات خوراک وبال

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روايت دے چې: الله پاک د داسې ګس نـمونځ نۀ قبلوي د چا پۀ خِټه کښې چې حرام خوراک وي-

اِمامِ غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ **فرمائي**: باقي پاتې شو فضول او د ضرورت نه زيات حلال نو د دې اِستعمال هم د بندګانو د پاره پۀ افت دے او پۀ عبادت کښې د ښه محنت کوونکو د پاره بلا ده- د زيات خوراک سره پۀ زړۀ کښې سختي پيدا کېږي او نُور لرې کېږي، ځينې نېکانو بندګانو د دې مثال داسې ورکړے دے چې مِعدَه د زړۀ نه لاندې د يوې خوټکيدونکي کټوی پۀ شان ده نو د مِعدې نه تَپ زړۀ اخلي او د دې پۀ وجه زړۀ خيرن او خرابيږي- اُستاذ ابو جعفر رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ څۀ ښه فرمائيلي دي: خيټه يو داسې اندام دے چې که چرې دا وږې وي نو د وجود باقي اندامونه ډک وي (يعنې پۀ سکون سره وي) د هيڅ شيز غوښتنه نۀ کوي او که چرې خِټه ډکه وي نو نور اندامونه وږي وي (يعنې د مختلفو ګناهونو طرف ته رجوع کوي-) که چرې خِټې ته حرام خوراک لاړ شي نو د حرامو کارونو پۀ حالت کښې بهر راځي او که فضول او د ضرورت نه زيات خوراک خِټې ته لاړ شي نو هغه به د فضولياتو پۀ شکل کښې بهر راځي، لکه چې خوراک تخم دے، کار او خبرې د دې تخم بوټے دے کوم چې د تخم مطابق راټوکېږي- (منهاج العابدين، ص82، 83 ملتقطاً)

﴿17﴾ تنهائي او لوبه

حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: عبادت يوه پيشه (Profession) دے، د دې دُکان تنهائي (Loneliness) دے او د دې آله (Instrument) لوبه ده- (منهاج العابدين، ص84)

﴿18﴾ حلال هُم بقدر ضرورت راځي

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حلال به د ضرورت پۀ مقدار تا له راځي او حرام به ستا خوا له بے درېغه راځي-

(تفسير ثعلبی، پ9، الاعراف، تحت الآية:163 تا166، 296/4) (منهاج العابدين، ص84)

﴿19﴾ د اخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاصيت

الله پاک چې کله زمونږ خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دُنيا پېش کړه نو اِرشاد يې وفرمائيلو: ” د دې پۀ بدله کښې به ستاسو پۀ اخرت کښې هيڅ کمے نۀ کووم-“ رَبِّ کريم د دې فضيلت سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاص کړے دے- بس دا د دې خبرې دليل دے چې نور به پۀ اخرت کښې د ثواب د کمي سره مخ کېږي د هغه نه علاوه پۀ چا باندې چې الله پاک خپل فضل اوکړي- (منهاج العابدين، ص85)

﴿20﴾ د ډېر خوراک د دُنيا او د اخرت نقصانونه

د ډېر خوراک پۀ وجه به پۀ اخرت کښې د حساب کتاب د پاره ايسارېدل وي او د ضرورت نه د زياتو حلالو پۀ اخستو او پۀ خواهشاتو کښې د اخته

کېدو سره چې کوم ادب پرېښودے شوے وي په هغې باندې به پښېمانه کولے شي ځکه چې د دُنيا په حلالو باندې حساب، په حرامو باندې عذاب او د دې په نښلا باندې په اخرت کښې نقصان او خساره ده- (منهاج العابدين، ص85)

﴿21﴾ د ډېر خوراک 10 افتونه

﴿1﴾ د زړۂ سختي ﴿2﴾ د اندامونو شر خوښي ﴿3﴾ په پوهه او فِراسَت کښې کمے ﴿4﴾ په عبادت کښې کمے ﴿5﴾ د عبادت خوږ والے ختم ﴿6﴾ په حرامو کښې د اخته کېدو خطره ﴿7﴾ قِسما قِسم مصروفيات ﴿8﴾ د مرګ سختئ ﴿9﴾ په ثواب کښې کمے ﴿10﴾ اخرت کښې د شرم سره مخ کېدل- د ډېر خوراک دا 10 مصيبتونه دي خو د ځان فِکر کوونکو د پاره هم يو کافي دے- (منهاج العابدين، ص82 تا85 ملتقطاً)

﴿22﴾ د پرهېزګارئ په لاره باندې د تللو د پاره

د تقوىٰ (يعني پرهېزګارئ) لاره ډېره سخته ده په دې باندې د تلونکي د پاره شرط دے چې هغه خپل نفس او زړۂ د تکليفونو په برداشت کولو باندې مضبوط کړي ځکه چې هغه به په دې لاره لاړ نۀ شي- (منهاج العابدين، ص88)

﴿23﴾ په کوم خوراک باندې حِساب نۀ بلکې ثواب دے؟

بنده دې حَلال او مُباح رزق د الله پاک په عبادت باندې د طاقت حاصلولو په نيت د ضرورت په توګه حاصل کړي ولې چې دومره حاصلول په ضرورت

کښې شامِل دي او بيا دې هم دغه کافي وګڼي نو دا د هغه د طرف نه خبر، نېکي او اَدَب دے او پۀ دې باندې نۀ حِساب شته نۀ عذاب بلکې هغه پۀ دې باندې د ثواب او ستائيني حقدار دے- (منهاج العابدين، ص90)

﴿24﴾ پۀ دُنيائي دوستۍ کښې د فضول وخت تېروونکو د پاره د فِکر خبره

ياد ساتئ چې تاسو به پۀ قبر کښې د ايښودو نه درې ورځې پس ستاسو دوستان خپلوان تاسو څنګه پرېږدي او هېروي به مو بلکې تاسو به يادوي هم نۀ لکه چې تا نۀ هغوئ چرته ليدلے وو او نۀ هغوئ تۀ ليدلے وي، پۀ قبر کښې به د الله پاک نه علاوه هيڅوک د حال پوښتنې والا نۀ وي- نو آيا دا ښکاره دوکه نۀ ده چې تۀ د دې مخلوق سره خپل وخت ضائع کړې، د هغوئ د طرف نه وفاداري او دوستي د ډېر لږ وخت د پاره ده او د هغوئ سره پاتې کېدل هم ډېر لږ دي؟ آيا دا ښکاره دوکه نۀ ده چې تۀ د دې دوستانو پۀ وجه د الله پاک عبادت پرېږدي حالانکې اخر هم د هغه طرف ته واپس ګرځېدل دي، هم هغه ستا همېشه همېشه ملګرے دے، ټول ضرورتونه د هغه طرف ته ګرځي، ټول باور پۀ هغه باندې دے او د هر حال او مصيبت او پرېشانۍ پۀ وخت هم هغه لا شريک ذات مددګار دے- (منهاج العابدين، ص93)

﴿25﴾ د نفس خباثت د 70 شېطانانو د خباثت نه زيات دے

يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رښتيا فرمائيلي دي چې " د نفس جهالت او د هغه کمينتيا به تا ته هُغه وخت معلومه شي کله چې دا د خۀ ګناه اِراده اوکړي يا

د څۀ خواهش د پاره تیار شي او تۀ هغه له د الله پاک، د هغه د ټولو انبیائے کرامو او رسولانو علَیهِمُ السَّلام ، د ټولو اسماني کتابونو او د ټولو بزرګانو وسیله ورکړي او د مرګ، قبر او د دوزخ معامله هغه ته پېش کړي نو بیا به هم دا نۀ منع کېږي او خپل خواهش به نۀ پرېږدي- (منهاج العابدین، ص94)

﴿26﴾ ګناه پرېښودل د نېکیِ کولو نه ډېر ښه دي

د بچ کېدو نه مُراد د ګناهونو او د بدو نه بچ کېدل دي او هم دا تقویٰ (یعني پرهېزګاري) ده او هم د دې دواړو نه د بچ کېدو والا حالت ډېر صحیح او افضل دے ځکه چې څوک د ښه عبادت کوونکو پۀ وړومبیِ درجه (Initial Stages) باندې وي د هغوئي ټول کوششونه هم دغه وي چې ورځ پۀ روژه کښې او شپه پۀ عبادت کښې تېره شي او هغه هم پۀ دې کښې لګیا وي او پۀ عبادت کوونکو کښې انتهائي درجې (Extreme Level) والا اصحابِ بصیرت " اِجتناب " یعني بچ کېدو له ترجیح ورکوي، د هغوئي ټول کوشش هم دا وي چې د هغوئي زړۀ د الله پاک نه علاوه د چا طرف ته متوجه نۀ شي، دا حضرات خِپله د ضرورت نه د زیاتو حلالو نه، ژبه د فضول خبرو نه او سترګې د بے کاره خیزونو طرف ته د اوچتېدو نه بچ کوي- (منهاج العابدین، ص95)

﴿27﴾ پرهېز نیم نۀ پوره عِلاج دے

منقول دي چې (پخوا زمانه کښې به) د هندوستان والۀ د مریض عِلاج زیاتره پۀ پرهېز سره کولو، هغوئي به مریض د یو څو ورځو پورې د خوراک، څښاک او خبرو کولو نه منع کړو نو هغه به ټیک کېدلو- (منهاج العابدین، ص96)

﴿28﴾ د يوې نمړۍ او د خراب نظر سپېرۀ والے

د يوې نمړۍ سره د زړۀ حالت داسې بدلېږي چې چرې هم زړۀ خپل اصلي حالت ته واپس نۀ راځي او کله يوه نمړۍ انسان د شپې د عبادت نه محرومه کوي او ډېر ځل داسې نظر اوچتېږي چې اِنسان د يو سُورت تِلاوت هم نۀ شي کولے او کله بنده داسې خوراک وکړو چې د هغې پۀ وجه يې ټول کال عبادت نۀ نصيب کېږي- (منهاج العابدين، ص97)

﴿29﴾ د زړۀ اِصلاح د ټولو نه ګران کار دے

حضرت سَيِّدُنا ابو يزيد بسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما 10 کاله د زړۀ، 10 کاله د ژبې او 10 کاله د نفس اِصلاح اوکړه نو پۀ دې کښې مې د ټولو نو مشکله اِصلاح د زړۀ وموندله- (منهاج العابدين، ص98)

﴿30﴾ نفس د بنده تابع دے

اِنسان چې نفس څنګه ساتي دا هم هٰغه شان اوسېږي، که چرې پۀ دۀ باندې خوراک کوې نو خواهش کوي ګنې مطمئين اوسي- (منهاج العابدين، ص102)

﴿31﴾ د رزق ورکولو قَسم

عظيم تابعي بزرګ حضرت حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاک لعنت دې وي پۀ داسې خلقو باندې د کومو چې د الله پاک پۀ قَسمونو هم يقين نۀ وي- کله چې دا آيت مبارک نازل شو:

فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ

[مفهوم] ترجموکنزالعرفان: نو د اسمان او زمکې د رب پۀ قَسَم! بے شکه دا حق دے- (پ26، سورۀالذّٰریٰت:23)

نو فرښتو ووئیل: د بني آدم د پاره دې هلاکت وي دوئي خپل رَبِّ کریم ناراضه کړو د دې پورې چې هغه دوئي ته پۀ رزق ورکولو باندې قَسم اِرشاد وفرمائیلو- (منهاج العابدین، ص106)

﴿32﴾ ما خپله معامله الله پاک ته سپارلې ده

اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي: زمونږه شیخ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به پۀ خپلو مجلسونو کښې اکثر فرمائیل: :"دَعِ التَّدْبِيْرَ اِلٰى مَنْ خَلَقَكَ تَسْتَرِحْ" یعني تدبیر خپل پېدا کوونکي ته پرېږده تۀ به پۀ سکون شي -" (منهاج العابدین، ص113)

﴿33﴾ پخه اِراده پکار ده

ما (یعني اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) د حضرت سَيِّدُنا اِمامُ الحَرَمَيْن ابوالمَعالی جُوَيْنی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه دا مسئله واورېدله چې الله پاک نـمونځ، روژه او حج وغېره څۀ چې هم پۀ بنده باندې فرض کړې پۀ دې کښې پۀ یقین سره د بنده د پاره بهتري ده۔ (منهاج العابدین، ص116)

﴿34﴾ د ټولو نه ګران کار

پۀ عبادت کښې د محنت او مشقت پۀ وجه د دې ترغیب ورکړے شوے او پۀ دې باندې د ثواب وعده شوې ده ځکه چې بنده د خواهش پۀ وژلو او پۀ

نفس باندې پۀ زور کولو سره عبادت کولے شي، ځکه چې نفس او خواهش د نېکۍ او د خېر نه منع کول کوي او د دوئي مخالفت کول د اِنسان د پاره د ټولو نه ګران کار دے- (منهاج العابدين، ص120)

﴿35﴾ د لويو خلقو اِمتحان هم لوئي وي

څوک چې څومره هم الله پاک ته نزدې وي پۀ دُنيا کښې پۀ هغه باندې مصيبتونه او غمونه هم هغه همره زيات راځي- (منهاج العابدين، ص121) آيا تاسو د الله پاک د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمان نۀ دے اورېدلے: پۀ خلقو کښې د ټولو نه سخت امتحان د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام وي بيا د شهيدانو، بيا درجه پۀ درجه د نورو خلقو- (ترمذی، 179/4، حدیث: 2406، دون ذکر ''الشهداء'')

﴿36﴾ د هرې سختې نه پس اساني

د عربي شعرونو ترجمه: هيڅکله هم مۀ مايوسه کېږه، اګر چې د غوښتنې ډېره موده تېره شي، که تۀ پۀ صبر سره مدد اخلي نو پراختيا (يعني اساني) به ووينې- د خپلو ضرورتونو موندونکي صبر کوونکي پۀ شان شه او د داخلېدو د پاره مسلسل د دروازې ډبوونکي پۀ شان شه-(منهاج العابدين، ص122)

﴿37﴾ صرف د رزق پۀ فِکر کښې خپل ځان ستړي کوونکو!

د الله پاک پۀ عبادت کښې پۀ ټولو پېښېدونکو خندانو [يعني رکاوټونو] کښې د ټولو نه لوئي او د ټولو نه سخت خند [يعني رکاوټ] ''**د رزق معامله**''

ده- د دې فِکر د مخلوق د پاره د ټولو نه لوئي مصيبت دے- مخلوق دې د پاره خپل ځانونه سترې کړل، زړونه پۀ فِکرونو کښې وانښتل، د دې پۀ غم کښې غمونه زيات شول، خپل عمرونه يې ضائع کړل او د دې پۀ وجه د لوئي لوئي ګناهونو بوج يې پۀ سر واخستو- د دې رزق فِکر مخلوق د الله پاک او د هغه د عبادت نه لرې کړل او د دُنيا او د مخلوق پۀ خِدمت کښې يې لګيا کړل لهذا پۀ دُنيا کښې دوئي پۀ تياره، غفلت، نقصان او ذِلت او رسوايۍ کښې ژوند تېر کړو او د اخرت طرف ته خالي لاسونه روان شول، که الله پاک پۀ خپل فضل سره رحم وه نۀ فرمائيلو نو هلته به دوئي ته د حساب او عذاب سره مخ کېدل وي- (منهاج العابدين، ص124)

﴿38﴾ الله پاک زما پۀ معامله کښې د بهترۍ نه زما نه زيات خبر دے

يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د الله پاک د طرف نه اِشاره وشوه چې غواړه تا له به درکړے کيږي- هغه توفيق يافته وو- د الله پاک پۀ دربار کښې يې عرض اوکړو: د هرې معاملې نه هر قِسمه خبر ذات، پۀ هر لحاظ سره نا خبره بنده ته فرمائي چې غواړه تا له به درکړے کيږي، ما ته څۀ پته ده چې زما د پاره بهتر څۀ دي چې زۀ د هغې سوال اوکړم؟ بس زما د پاره يې هم تۀ خوښ کړه- (منهاج العابدين، ص131)

﴿39﴾ ټول جهان ستا د پاره دے او ټۀ د الله پاک د پاره یې

چې یو ګس تا ته ووائي چې زۀ به ستا ټول کارونه اوکړم او ستا د ضرورتونو بهترین تدبیر به کووم ، ټۀ خپلې ټولې معاملې ما ته وسپاره او بے فِکره شه او هٰغه ګس ستا پۀ نزد د خپل وخت د ټولو نه لوئي عالِم، د ټولو نه زیات وفادار وي نو آیا ټۀ به د هغه خبره د خپل ځان د پاره غنیمت او ډپر لوئي نِعمت نۀ ګڼې؟ او آیا ټۀ به د هغه اِحسان مند نۀ یې؟ بیا که چرې هغه ستا د پاره د ځۀ داسې څیز انتخاب اوکړي پۀ کوم کښې چې تا ته ځۀ غوره والے پۀ نظر نۀ راځي نو بیا به هم ټۀ پرېشانه کېږې نا بلکې د هٰغه ګس پۀ تدبیر باندې به مُطمئین یې او ستا به یقین وي چې دا ګس به زما د پاره د غوره څیز انتخاب کوي او ستا د پاره به هم د ښېګڑې سوچ کوي اګر چې وروستو د هغې انجام ځۀ هم وي خو آیا ستا به پۀ هغه باندې مکمل اِعتماد نۀ وي؟ چې پۀ یو بنده باندې ستا د اِعتماد دا حال دے نو بیا پۀ تا باندې ځۀ شوي دي چې خپل کارونه د ټولو جهانونو رَبِّ کریم ته ولې نۀ حواله کوې حالانکې د زمکې او د اسمانونو تدبیر فرمائیلو والا هم هغه دے، د ټولو نه زیات عالِم، د ټولو نه زیات قادر، د ټولو نه زیات مهربانه او د ټولو غنیانو نه زیات غني دے- (منهاج العابدین، ص131، 132)

﴿40﴾ نبغه لاره

پۀ الله پاک باندې د خالص توکل پۀ ذریعه زړۀ د هغه د خوښو څیزونو نه لرې کول، نفس د پخو (خرابو) عادتونو نه منع کول، د خپلو کارونو د انجام نه د

خبرېدو نه بغېر د هغې تدبير پرېښودل او الله پاک ته حواله کول، نفس د الله پاک د ناراضتيا او د غوغا کولو نه منع کول (حالانکې نفس د دې تادي کوي) او د ناخوښتيا باوجود نفس ته د الله پاک د رضا مندۍ واکې اچول او د صبر ګوټ پرې څښل دا ټول کارونه اګر چې ګران او ډېر سخت علاج او درونډ بوج دے خو هم دا نېغه لاره ده او د دې انجام ښه او د دې احوال د نېک بختۍ دي- (منهاج العابدين، ص134)

﴿41﴾ د مصيبت پۀ راتلو باندې د صبر طريقه

کله چې تا ته څۀ مصيبت پېښ شي او هغه پۀ تا باندې بد ولګي نو سمدستي هٰغه وخت د خپل نفس نګراني اوکړه او خپل زړۀ پۀ قابو کښې ساته د پاره د دې چې هغه نا قلاره نۀ شي او نۀ ګيلې معني شروع کړي ځکه چې د صبر او برداشت اصلي موقع هم دغه وي او هٰغه وخت نفس د بے صبرۍ طرف ته پۀ تادۍ سره وړاندې کېږي- تۀ خپل نفس ته ووايه: **اے نفسه!** دا مصيبت خو راغلو، اوس د دۀ د لرې کولو هيڅ تدبير نشته او الله پاک د دې نه لوئي مصيبتونه هم لرې کړي دي، بے شکه مصيبتونه ډېر قِسمه او ډېر زيات وي- ډېر زر به دا مصيبت هم لرې شي، دا خو يوه وريځ ده کومه چې به لاړه شي ځکه اے نفسه! نۀ تۀ راتلونکے مصيبت لرې کولے شې او نۀ د بے صبرۍ څۀ فائده شته نو د لږ ساعت د پاره صبر اوکړه د دې پۀ بدله کښې به تا ته اوږده خوشحالي او ډېر زيات ثواب حاصل شي او حقيقت دا

دے چې د صبر او برداشت سره هیڅ مصیبت، مصیبت نۀ پاتې کېږي بس تۀ خپله ژبه پۀ ''اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ'' وئیلو او زړۀ د هٰغه څیز پۀ یاد کښې اخته کړه د کوم پۀ وجه چې د الله پاک د دربار نه اجر او ثواب مېلاؤ شي او د پخو اِرادو والا انبیائے کرامو علَیہِمُ السَّلام او د اولیائے عظامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم پۀ لوئي لوئي مصیبتونو باندې صبر کول یاد ساته- (منہاج العابدین، ص137)

د راتلونکې هفتې رساله



فیضانِ مدینہ، محلّہ سوداگران، زیرہ سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net